**افغانستان: په خبرو اترو سره باید د میرمنو سره د طالبان ناوړه چلند له پامه ونه غورځوي**
د یاغي ډلو سره په هرډول معامله کې باید د میرمنو حقونه خوندي پاتې شي

(کابل، ۲۲ سرطان ۱۳۸۹ ) – د بشر د حقونو د څار اداره په خپل یو رپوټ کې چې نن یې خپور کړی وایي ولې باید د هرې یاغي ډلې سره په هر ډول سیاسي جوړجاړي کې د میرمنو په حقونو باندې د طالبانو له لوري روانو حملو ته لومړیتوب ورکول شي. د بشر د حقونو د څار اداره زیاتوي چې افغان دولت او د هغه نړیوال ملاتړي د یاغیانو د بیاجذب په پروګرامونو کې د میرمنو خوندیتوب له پامه غورځولی دی، او دا ډاډ یې ندی ورکړی چې له طالبانو سره په احتمالي روغې جوړې کې به د میرمنو حقونو ته ځای ورکول شي.
دغه ۶۵ مخیز رپوټ "لس ډالري طالبان او د میرمنو حقونه: افغان میرمنې او د بیاجذب او پخلاینې خطرونه،" هغه احتمالي ننګونې په ګوته کوي چې د میرمنو حقونو ته د طالبانو سره د دولت د راتلونکي جوړجاړي څخه راپورته کیږي. پدغه راپور کې راغلي چې څرنګه میرمنې په هغو سیمو کې چې د طالبانو تر ولکې لاندې دي، ترتهدید او تاوتریخوالي لاندې راځي او د نجونو زده کړې په نښه کیږي، او ښځینه رهبرانې او فعالې وژل کیږي او وژونکي یې د مجازاتو څخه بخښل کیږي.
"افغان میرمنې باید ددې لپاره له خپلو حقونو څخه تیرې نشي چې دولت له طالبانو سره معامله وکړي" داخبره ټام مالینوسکي ( Tom Malinowski) چې په واشنګټن کې د بشر د حقونو د څار اداري مشر دی، وکړه. "دا به ډیر غمونکی خیانت وي چې هغه پرمختګ چې د میرمنو او نجونو د حقونو په برخه کې په تیرو نهو کلونو کې شوی، له هغوي (میرمنو) څخه بیرته واخیستل شي."

په هغو سیمو کې چې د طالبانو تر ولکې لاندې دي او یا یې نفوذ پکې زیات دی، میرمنې ترتهدید او تاوتریخوالي لاندې راځي، او په عامو میرمنو چې د کور څخه بهر کار کوي، حملې کیږي. د تهدید یوه روښانه نمونه "د شپې لخوا لیکونه" دي، چې میرمنو ته تهدیدونکي خبرې پکې لیکل کیږي او بیا یې په کورونو یا ښوونځیو کې اچول کیږي.

د دولت یوې ښځینه مامورې هغه مهال خپله دنده پریښوده چې د ۲۰۱۰ کال په فبرورۍ میاشت کې یې یو لیک ترلاسه کړ چې داسې یې پکې لیکلي ؤ: "مونږ طالبان تاته اخطار درکوؤ چې له خپلې دندې لاس په سر شې که نه نو د ژوند په بیه به درته پریوځي. مونږ به دې په داسې یوه طریقه ووژنو چې تراوسه هیڅ میرمن نه یې وربانديې وژل شوي. نو بیا به دا د ستا په شان میرمنو لپاره یو غوره پند وي."

همدارنګه ۲۲ کلنې هوسی چې له یوې امریکایي پرمختیایي اداري سره کار کاوه، د ټلیفون له لیارې یې تهدیدونه ترلاسه کړل مګر بیا هم هغې خپلې دندې ته ادامه ورکړه. د اپریل په میاشت کې ناپیژاندو وسله والو کسانو نومورې هغه مهال په ډزو وویشته او ویې وژله چې له دفتر څخه بهر راوتلې وه. له دې پیښې څخه لږ موده وروسته یوې بلې میرمنې دې ته ورته لیک ترلاسه کړ او پکې لیکل شوي ؤ چې دا ځل به یې وار وي: "په همغه ترتیب چې مونږ پرون هوسی ووژله د ستا او نورو میرمنو نوم هم زمونږ په لست کې دی."

طالبان او نورې یاغي ډلې په وار وار د نجونو زده کړې تهدیدوي او ښځینه ښوونکې او زده کوونکې تربرید لاندې راولي. د فبرورۍ په میاشت کې د هیواد په یو شمالي ولایت کې د نجونو یو ښوونځي ته یو لیک ورکول شو چې متن یې په لاندې ډول دی:

"تاسو ته مو مخکې خبر درکړ چې ښوونځي وتړئ او دغه پاکې او بې ګناه نجونې د یو کفري دولت ترلارښوونې لاندې مه بې لارې کوئ، مګر تاسو هیڅ پام ورته ونکړ.... دا وروستی اخطار دی چې ښوونځی زر تر زره وتړئ... که چیرې تاسو په ولایت کې پاتې کیږئ نو په یاد ولرئ چې تاسو او د ستاسو کورنی به له منځه ځي."

د بشر د حقونو د څار اداره وایي چې تراوسه پورې ډیرې لږې نښې نښانې لیدل کیږي چې د کرزي حکومت دغه حملې او اندیښنې د اورپکو سره د پخلاینې او د هغوي د بیاحذب په پروګرامونو کې په پام کې نیولي وي، او یا یې په هغو وړاندیزونو کې په پام کې نیولي وي چې له طالبان سره د جګړې څخه د هغوي د پخوانیو مشرانو او رهبرانو سره روغې جوړې ته اوښتل دي.

افغان دولت د میرمنو د هغو آزادیو د خوندی ساتلو لپاره چې د ۲۰۰۱ د طالبانو د راپرځیدو څخه را وروسته یې ترلاسه کړي، ډیر کمزورۍ ډاډ ورکړی. پدې وروستیو کې ولسمشر کرزي د سیاسي ګټو د خوندیتوب په خاطر له پامه غورځولي. د بېلګې په توګه د ۲۰۰۹ کال د مارچ په میاشت کې د اهل تشیع د شخصیه احوالو د هغه قانون (په کوم کې چې د اهل تشیع میرمنو ډیرو حقوقو څخه انکار شوی لکه د ماشوم حضانت او هغوي د تګ راتګ څخه منع شوي دي) توشیح کړ چې په هغه کې ښځو ته ډیر د تبعیض په سترګه کتل شوي دي. او بل دا چې په ۲۰۰۸ کال کې یې دوه محکومو ډله ییز جنسي تیري کوونکو ډلو ته بخښنه وکړه.

د بیاجذب ځیني نړیوال مدافعین اوریکو ته په بنسټیز ډول د غیرایډیالوژیک شکل ورکوي، "لس ډالري طالبان " چې یواځې د پیسو لپاره جګړه کوي، په ګوته کوي. د امریکا متحده ایالات، ناټو ځواکونه او نور مهم بسپنه کوونکي د مخالفینو د بیاجذب د پروګرامونو څخه په ټینګه ملاتړ کوي، چې ترډیره به یې مالي مرسته هم وکړي. د طالبانو سره په پخلاینه کې د هغوي ملاتړ ډیر محدود دی.

سره له دې چې د افغانستان نړیوال ملاتړي د میرمنو د حقونو د خوندیتوب ژمني کوي، بیاهم د بشر د حقونو د څار اداره اندیښمنه ده چې کیداي شي هغوي هم د افغانستان څخه د وتلو د استراتیژۍ په ترڅ کې د میرمنو حقونه قرباني کړي. د مثال په توګه اګرچې افغان دولت ویلي چې هغه اوریکي چې بیاجذب او سوله کې برخه اخلي، د افغانستان اساسي قانون ته غاړه ږدي، کوم چې د میرمنو او نارینه ؤ لپاره برابر حقوق ورکوي، پدې اړه د موافقې هیڅ ډاډ نه ترسترګو کیږي.

د بشر د حقونو د څار د اداري مرکې ښیي چې د افغان او نړیوالو عاملینو ترمنځ پدې اړه چې آیا امکان به ولري چې میرمنو ته د زده کړې، کارکولو او په سیاسي ډګر کې ونډه لرلو څخه ملاتړ برابر کړي، ستونزه موجوده ده.

ټام مالینوسکي (Tom Malinowski) وویل، "بسپنه کوونکي دولتونه په مشروع ډول سره د افغان دولت په هغه مشرتابه باندې ټینګار کوي چې دا بهیرونه پرمخ بیایي." "مګر دا پدې معنی ندی چې هغوي باید د افغانانو د هغو معاملو ملاتړ وکړي کومې به چې افغان میرمنې له ګواښ سره مخ کړي."

افغان دولت پدې لټه کې شوی چې مخالفې ډلې د هغوي د جنګي جرایمو او د نړیوالو قوانینو د نورو خطرناکو سرغړونو څخه په معافیت سره راجذب کړي. مګر عدالت او د شدیدو جرایمو مسؤلیت منل باید د طالبانو او نورو مخالفو ډلو سره د خبرو کولو او پخلاینې په سر کې ځای ولري، داخبره د بشر د حقونو د څار اداري وکړه. ددې کار لپاره پکار دا ده چې د دولت اوسني چارواکي د شدیدو جرایمو او په ټاکنو او سیاسي ګمارنو کې د درغلیو لپاره د عدالت منګولو ته وسپارل شي.

دغه رپوټ هغه شرایط وضع کوي کوم چې باید د بیاجذب او مذاکرو یا پخلاینې په هر بهیر کې داخل شي ترڅو د میرمنو د حقونو د خوندیتوب ډاډ ترلاسه شي. د میرمنو د کار کولو، په سیاسي ژوند کې د ونډې او زده کړې د حقوقو څخه باید په زغرده دفاع وشي او خوندي پاتې شي، دا خبره د بشر د حقونو د څار اداري وکړه. هغه افراد باید د قدرت څخه وایستل شي کوم چې د میرمنو او نجونو سره د ناوړه چلند تاریخ لري. او ښځینه رهبراني باید د تصمیم نیونو په بهیر کې په ټینګه سره داخلې شي، ولوکه د مخالفینو د بیاجذب بهیر وي او که د هغوي سره پخلاینه وي، دا ځکه چې هغوي پخپله د خپلو حقونو ترټولو غوره ډاډمنونکي دي.

ټام مالینوسکي (Tom Malinowski) وویل "پدې شخړه کې افغان میرمنې ترټولو ډیرې زیان منونکې دي، او هیڅوک دومره د سولې غوښتونکي ندي لکه میرمنې"، "مګر د هغوي حقوق باید د ناوړه معاملو ښکار نشي. سوله یواځې په عدالت سره راتلاي شي"